AREU
افغانستان د څېړنې د بنسټ لپاره
۱۲ کاله باکیفیته څېړنه

# په افغانستان کې د میرمنو او رهبرۍ معما: درسونه او وړاندیزونه

لړم ۱۳۹۳

آریه نجات

## پیژندنه

د افغانستان د تاریخ یو نوی فصل لیکل شوی. د ملي وحدت حکومت جوړ شوی. په دې لړ کې له امریکا سره دوه اړخیزه امنیتي قرارداد او له ناټو سره د ځواکونو د حالت پریکړه هم لاسلیک شوې ده. ولسمشرغني د کابل بانک د قضیې[۱] د بیا څېړنې امر کړی، دارنګه یې په تعلیمي بنسټونو[۲] کې د جنسي ځورونې پرضد د قانون د جوړېدو او په ستره محکمه[۳] کې د یوې ښځینه قاضۍ د ټاکلو ژمنه هم کړې ده. د دې ترڅنګ د ۲۰۱۴ کال د سپتمبر پر نه ویشتمه، د لوړې مراسمو ته د وینا پرمهال[۴]، په کم ساري ډول د ولسمشر له خوا د خپلې میرمنې رولا غني، چې دی بي بي ګل بولي، مننه کول هم د یادولو وړ دي[۵]. هغه خپله میرمن ځکه وستایله چې د ښځو د حقونو لپاره یې کار کړی. سره له دې چې افغانان د دغه ډول مثبتو کارونو دوام ته هم په عملي او هم په نظري ډول هیله من ښکاري، خو اوس د دې وخت دی چې د میرمنو د رهبرۍ د زمینې او پیاوړتیا لپاره پر پخوانیو دولس کلنو تګلارو او پالیسي له سره کتنه وشي او شخصي سلیقي ترې لرې کړل شي. همدارنګه دې له نړیوالو او ملي مشارکینو سره هم نوی کار هم پیل شي.

## مشاهدې: روان حالت

افغانستان کلیواله ټولنه ده چې دودونه، مذهب او نارینه پکې واکمن دي. نژدې په ټولو کچو کې پریکړې له پاسه نه ښکته کیږي او ډیره برخه یې نارسمي وي. د شخصیت په جوړولو کې توکمیز جوړښت، ټولنیز امتیاز، ثروت او یا هم رسمي او نارسمي اقتدار(واک) چې ښایي سرچینه یې له همدغو یادو شویو فکتورونه څخه یو وي، مهم رول لري. زرې موټر او یا د شخصي ساتونکو شمیر هم د افغانستان په څیر ټولنه کې د شخصیت له جوړولو سره تړلي بلل کیږي. په افغان ټولنه کې، چې ښځې پکې دویمه درجه وګړي بلل کیږي[۶]، د عامو خلکو نظر مهم دی خو په خپل ذات کې ممتاز خلک پکې واکمنان دي او نارینه له زړونو پکې له میرمنو بیزاره دي. په دغه ډول ټولنه کې تل څلورو[۷] میرمنوته، چې هغه به د چا مور، یا خور، میرمن او یا هم لور وي، درناوی کیږي خو له دې پرته د نورو ټولنیزو اړیکو لرونکو میرمنو ته په کمه سترګه کتل کیږي.

د ټولنیز دود له نظره داسې غوښتنه کیږي چې د ښځو او نارینه وو لپاره دې طبیعي[۸] رول درک کړل شي مګر دغه طبیعت په دې پورې تړلی چې څه ډول تعریف شي. (ښځه د ګور ده یا د کور ده) یو له هغو قاعدو ده، چې هم پرې باور کیږي او هم په عمومي ډول پلی کیږي. مالي اړتیاوو او یا هم سختو شرایطو په ځینو ځایونو کې دا زمینه برابره کړې، چې دغه قاعده ماته شي او آن دا چې نجونې د هلکانو جامې اغوندي[۹]. د خوست له بي بي حکمینې[۱۰] څخه چې د نارینوو په کالیو کې د نارینوو په ډول ستایل کیږي، نیولې د بغلان تر کفتر بي بي[۱۱]، بیا د ملي شورا له پخوانۍ غړې ازیتا رفعت[۱۲] او د هغې تر لور مهرنوش/ مهران[۱۳]

---

۱ کیبریل ډومینګیوز، د کابل بانک د رسوایی په اړه نوې څېړنه "مهم سمبولیک قانون"، ډي ډبلیو، د اکتوبر ۳، ۲۰۱۴، -http://www.dw.de/new-probe-into-kabul-bank-scandal-an-important symbolic-act/a-17970853

۲ د بشري حقونو د څار اداره، افغانستان: ولسمشر غني باید سملاسي د ادعاشویو جنسي ځورونو پرضد د اصلاحاتو ملاتړ وکړي، د اکتوبر ۱۴، ۲۰۱۴، /http://www.hrw.org/news/2014/10/14 afghanistan-fight-rampant-sexual-harassment

۳ خامه پریس، افغانستان په خپل تاریخ کې په لومړي ځل په ستره محکمه کې ښځینه قاضي ګماري، د اوکتوبر ۳۰، ۲۰۱۴، -http://www.khaama.com/afghanistan-to-appoint-female-judge-in sc-for-first-time-in-history-8898

۴ ملکه ثریا له دې وړاندې تر دې مهاله یوآځینۍ مهمه لومړۍ میرمن بلل کیږي. په دې اړه نور، ( افغان لومړۍ میرمن د ۱۹۲۰ لسیزې ؟) کې لوستئ شئ، د اکتوبر لومړۍ، ۲۰۱۴، .http://www aljazeera.com/news/asia/2014/09/afghan-first-lady-shadow-1920s-queen-2014930142515254965.html

۵ د ولسمشرغني د لوړې د مراسیمو ویډیو دلته لیدای شئ، https://www.youtube.com/watch?v=Gb2k1K16JAU

٦ خپلې شخصي او د نورو کتنې

۷ ولسمشرغني د دغه حالت د بدلولو ژمنه کړې، سنجې کمار، له نوي افغان ولسمشر سره د ډیپلومات خپرونې مرکه، د اکتوبر دویمه، ۲۰۱۴، http://thediplomat.com/2014/10/interview-ashraf-ghani

۸ عبدالرب رسول سیاف له طلوع نیوز سره په ځانګړې مرکه کې، https://www.youtube.com/watch?v=X-vbumzc60o

۹ جینې نورډ برګ په خپل وروستي کتاب کې دغه پدیده راوړې ده (د کابل له ځمکې لاندې نجونې)، دغه کتاب په دې لینک کې کې لوستی شئ، -http://www.washingtonpost.com/opinions/book review-the-underground-girls-of-kabul-by-jenny-nordberg/2014/09/19/441e752e-0eb5-11e4-b8e5-d0de80767fc2_story.html

۱۰ ډي ډبیلو، (د میرمنو پاشاه)- لکه افغانه چې نه وي، د اکتوبر ۱۳، ۲۰۱۱، http://www.dw.de/king-of-the-women-an-unlikely-afghan/a-15457529-1

۱۱ ټام کهلن، د افغانستان له جنګسالارنو ویریدلې میرمنې، د مارچ ۱۲، ۲۰۰۲، http://news.bbc.co.uk/2/hi/south_asia/4806516.stm

۱۲ نوشین ارباب زاده، په افغانستان نجونې هلکان وي: کارډین، نومبر http://www.theguardian.com/global/2011/nov/30/afghanistan-girls-dressing-as-boys

۱۳ بي بي سي فارسي، افغان نجونو ته د هلکانو کالي ور اغوستل: نوې پدیده، د سپتمبر ۲، ۲۰۱۱، http://www.bbc.co.uk/persian/afghanistan/2011/09/110906_l42_afgh_boy_girl.shtml

پورې ټول ټول د میرمنو د نوښت مثالونه دي[۱۴]. خو نا انصافي دا ده چې بیا هم په ټولنیزو چارو کې یې برخه اخیستنه د نارینه وو په نقش کې ده. د اسامه[۱۵] په نوم فلم کې دغه حالت ننداري ته وړاندې شوی خو کلتور یې اغیزناک نه دی تحلیل شوی، او یوائې د افغانستان د سیاست یوه برخه پکې رانغښتل شوې، چې هغه د طالبانو واکمني ده.

هغه چا چې په اوسني نظام کې مخامخ په ټولنه کې د برخې اخیستو هڅه کړې او د ښځو له سنتي پولو یې اخوا قدم ایښی، آن که هغه[۱۶] د ښوونځي زده کوونکې هم دي، په ښنبه شوې ځکه چې اوسني حالت ته ګواښ بلل شوی دي. خو له دې سره سره ښار میشتي او انټرنیټي فعالان ښایي د ټولنیز پرمختګ یو تصویر وي ځکه په ښاري سیمو کې نارینه له ښځو نه د کمې کچې د اطاعت تمه لري[۱۷]. ناسم چاپیریال د دې لامل شوی، چې میرمنې په ټولنیزو، سیاسي، اقتصادي برخو او له کوره بهر په کارونو کې ونډه وا نه خیستلای شي. د دې ترڅنګ په ټولنیزو چارو کې دښځو د ونډې په اړه تفاهم هم نشته. خو په افغانستان کې د اصلاحاتو تاریخ نژدې یوه پیړۍ وړاندې پیر ته، په ۱۹۱۹ کال کې د پاشاه امان الله خان دورته رسیږي، هغه مهال د افغانستان له ځوان کهول نه دټولنیزو اصلاحاتو تمه کیده.

موږ اوس په افغانستان کې د ښځو لپاره خوندي قانوني سیستمونه لرو[۱۸]، داسې دولتي او شخصي بنسټونه شته چې د ښځو د حقونو لپاره تګلارې لري[۱۹]، په ملي کچه د ښځو د ځواکمنتیا لپاره اوږدمهالي پلانونه شته[۲۰]، درې میلیونه نجونې ښوونځیو ته ځي[۲۱]، ښځې په رسمي اقتدار کې ونډه لري او دا چې اوس فعاله اجتماعي لومړۍ میرمن هم شته[۲۲]. خو هغه څه چې موږ یې وینو، ښایي ظاهر یې وي، ځکه داسې فیوډالي نظام تر پوښښ لاندې راولي چې هلته نارینه په [۲۳]میراثي ډول د پریکړو واک لري.دا لیکنه د داسې ټولنې پر اساس لیکل شوې چې نارینه یې واکمني کوي، په بنسټونو کې یې جندر[۲۴] په پام کې نه نیول کیږي او د ښځو مسلو ته دنړیوالې[۲۵] ټولنې دحضور له مخې پام اړول شوی دی. د ښځو حرکتونه په عمومي ډول د افغان میرمنو له بیړنیو اړتیاوو خبر نه دي. دا چې د میرمنو لومړیتوبونه، نه شي مشخص کولای نو پر واک لرونکو یې اغیزهم لږ وي او په ورته وخت کې دا واټن لاپسې پراخیږي.[۲۶] د سولې په خبرو کې د ښځو د حقونو خوندیتوب د بحث له مهمو برخو بلل کیږي، د دې ترڅنګ له افغانستان د ټولو بهرنیو ځواکونو له وتلو سره د ښځو د حقونو د له[۲۷] منځه تلو ویرې، هم افغانانو او نړیوالو مطرح کړې دي.

## تاریخ ته لنډه کتنه

د ۲۰۰۱ کال د سپټمبر ۱۱ مه، په افغانستان کې د نړۍ د ښکیلتیا تر ګردو وروستۍ پیلامه بلل کیږي، او له دغه تاریخ وروسته په دغه هیواد کې د پرمختګ لپاره هلې ځلې مشخصې شوې. د ښځو د ازادۍ مسالې د سیاسي پریکړې له توجېه[۲۸] سره چې پوځي ښکیلتیا وه، مرسته وکړه. په پایله کې د طالبانو د واکمنۍ او پر ټولنه د نارینه وو د لاسبري ترمنځ واټن راکم کړای شو. له هغه مهال راهیسې تیر دولس کاله تر ډیره د منل شوي حالت پر رغولو تیر شول، ځکه د ارزښتونو دوه ډوله سیستمونه (په اساسي قانون کې د ښځو خوندي شوي حقونه او په کور کې د میرمنو له لانجمن نقش سره تړلي ارزښتونه) په ټکر کې وو. په پایله کې د دې پر ځای چې اوس عام خلک د جندر دمساوات ارزښت ومني، تر ډیره په دولتي کچه د ښځو حقونه په تیوریک[۲۹] ډول مو جود دي.

---

۱۴ دلته د (ناروا) له کلمې نه مطلب دا دی چې دغه ارزښت له رهبرۍ سره په تړاو کې کارول کیږي. دا کار له اصلي هدف سره مرسته نه شي کولای. د مخکښو میرمنو له لوري، له دود ور هاخوا د رهبرۍ دغه ډول نقش ناروا بلل کیدای شي.

۱۵ د دې فلم توضیحات په دې لینک کې لیدلای شئ، http://www.imdb.com/title/tt0368913

۱۶ عالي ټورګان، د تیزابو برید، زهر: ښوونځیو ته د تګ لپاره د افغان نجونو پر وړاندې ګواښونه څه دي؟ ، د سي این این اتلان، د اګست دویمه، ۲۰۱۲، http://www.cnn.com/2012/08/02/world/meast/cnnheroes-jan-afghan-school/index.html

۱۷ خپلې شخصي او د نورو کتنې

۱۸ د یوناما تازه خبرونه، ملګرو ملتونو پر افغان چارواکو غږ وکړ چې د (EVAW) قانون د بشپړ پلې کیدو ډاډ ورکړي، د مې ۲۰، http://unama.unmissions.org/default.aspx?ctl=Details&tabid=12254&mid=15756&ItemID=36838

۱۹ د دغه قانون دا فصل له دې ځایه ډونلوډ کولای شئ، http://mowa.gov.af/en/page/6686

۲۰ د افغانستان د لاسته راوړنو په اړه د امریکا د نړیوالې پراختیایي ادارې موندې، اګست، ۲۰۱۴، http://www.usaid.gov/sites/default/files/documents/1871/Achievements in Afghanistan.pdf

۲۱ د افغانستان په پارلمان کې د ښځو په اړه CBS د رپوټونه سلسله، http://www.cbsnews.com/pictures/the-women-of-afghanistans-parliament

۲۲ له یک تلویزیون (1TV) سره په خبرو کې، اکتوبر ۲۸، ۲۰۱۴، https://www.youtube.com/watch?v=Tyzs9xriFSs&feature=youtu.be

۲۳ د نور معلوماتو لپاره، ویسټ فلوریډا پوهنتون، ټولنه او اصول- کورنۍ او کورنۍ ژوند کتلای شئ: http://uwf.edu/atcdev/afghanistan/Society/Lesson1Family.html

۲۴ د افغان حکومت په بنسټونو کې د جندر زده کړه، صوفیا شهاب، په افغانستان کې دښځو حقونه: یوه قدم وړاندې، دوه قدمه وروسته؟ نومبره ۲۶، ۲۰۱۳، http://www.theguardian.com/global-development-professionals-network/2013/nov/26/womens-rights-afghanistan-gender-mainstreaming

۲۵ د افغانستان د څیړنې او ارزونې واحد، د ښځو حقونه، دجندر مساوات او انتقال: د ګټو لاسته راوړل، وړاندې تګ، سپټمبر ۲۰۱۳، http://www.areu.org.af/EditionDetails.aspx?EditionId=686&ContentId=7&ParentId=7

۲۶ مسعوده جلال، افغانستان: د سولې او پخلاینې ړندې هڅې، مارچ ۱۲، ۲۰۱۳، https://www.opendemocracy.net/5050/massouda-jalal/afghanistan-blind-pursuit-of-peace-and-reconciliation

۲۷ مشتاق مجددي، د افغانستان د تکواندو لوبغاړې د طالبانو د بیرته راتګ ویره لري، ګلپ ټایم، سپټمبر ۱۸، ۲۰۱۴، http://www.gulf-times.com/Mobile/Afghanistan/219/details/408793/Afghanistan

۲۸ په دې اړه نور معلومات د لیلا ابوقتدا، ایا مسلمانې میرمنې ژغورنې ته اړتیا لري؟ کلتور ته دنسبت ورکولو په اړه د بشر پیژندې انعکاس دلته لوستی شئ، http://org.uib.no/smi/seminars/Pensum/Abu-Lughod.pdf

۲۹ آریه نجات، په افغانستان کې حکومتوالي: پیژندنه، د افغانستان د څیړنې او ارزونې واحد، مارچ ۲۰۱۴، مخ ۳۷-۳۹. http://www.areu.org.af/EditionDetails.aspx?EditionId=730&ContentId=7&ParentId=7&Lang=en-US

د ښځو د حقونو مدافعين، چې د تشخيص مفهوم يې ناسم دی او د ښځو ازادي يې د نړيوالو پر نظر متکي کړې، د دې مسالې په راپورته کولو کې پاتې راغلي چې د ښځو د حقونو موضوع د افغانستان د اکثريت وګړو مساله ده. دې کار داسې ناسمه ستراتيژي رامنځ ته کړه چې د ښځو د حقونو له پرمختيا سره يې مرسته ونه کړه. سره له دې چې د ښځو چارو د وزارت او د وزارتونو د جندر واحد په څير جوړښتونه رامنځ ته شول، خو بيا هم د ميرمنو پر بيړنيو اړتياوو لکه امنيت، د دندو پر پيداکولو، سرپنا او روغتيايي مسايلو ډير تمرکز ونه شو.

د افغانستان رهبرۍ په محرک ډول دې ته زمينه برابره کړه چې افغانان تر ډيره پر نړيوالو متخصصينو چې په دې برخه کې يې تخنيکي واک درلود، متکي واوسي. د ښځو د حقونو اساسي طريقه[30] چې دبيلګې په ډول له وړاندې له مذهبي او د پښتونولۍ په څير له پيپچلي مفهوم سره يو ځای شوې وه، ميرمنې يې له لا ډير بد تر حالت سره مخامخ کړې ، ځکه د ټولنې دغه برخه له وړاندې زيانمنونکې وه او حکومت هم له پخوا نه کمزوری او په جګړه بدل شوی بنسټ و.

## ميرمنې او رهبري: يوه معما

د ميرمنو د رهبرۍ په اړه يوه له مهمو ستونزو څخه دا ده چې په بنسټونو کې د اقتدار او رهبرۍ ترمنځ روښانه کرښه نشته.[31] په ټوله کې د رهبرۍ د ظرفيت لوړوالی د يو چا د اقتدار زياتوالی ګڼل کيږي. کيفيت په دوديز ډول له رهبرۍ سره تړلی نو ځکه اقتدار او هغه څه چې له ښځو سره تړاو لري، له يو بل سره مطابقت نه کوي، او له همدې وجې داسې انګيرل کيږي چې ښځې په اقتدار (واک) کې د مهمو پوستونو وړتيا نه لري. په داسې يوه ټولنه کې چې په ميراثي ډول نارينه پکې تل واکمن وي او پريکړې هم له پاسه ښکته کيږي، د ډيرو لپاره دښځو رهبري له يوه مبهم مفهوم يا معما نه بل څه نه شي کيدای، دا مفهوم هم راپورته کيدای شي (چې ځوک يې ملاتړ کوي) په دې معنا چې کوم نارينه او يا هم د نارينه وو کومه ډله يې ملاتړ کوي.

حکومتي بنسټونه د جندر پر مسالې سترګې پټوي او وايي چې د ښځو چارو وزارت او د وزارتونو د جندر واحدونو، ونه شوای کړی چې د ښځو دحقونو او د جندر مساوات په عامه بنسټونو کې په سم ډول مطرح کړي او د نفوسو دغه ډيره برخه يې همداسې يواځې پريښوده. خو له دې ستونزو سره سره، دوی څنګه خپل کار ته ادامه ورکوله؟ په داسې يوه ټولنه کې چې ښځې پکې د دويمې درجې اتباع ګڼل کيږي، يو بنسټ په يواځې توګه د ښځو چارو لپاره کفايت نه شي کولای او هغه هم داسې بنسټ چې هم کمزوری وي او هم مسخره. د ښځو چارو وزارت چې ماموريت يې يواځې د تګلارو په جوړولو پورې محدود دی، دښځو په اړه يې د نورو وزارتونو د پاليسو د جوړولو د نوښت بهير هم محدود کړی دی، او دې کار دې ته لاره اواره کړې چې د ښځو دحقونو اجنډا او مسووليت ټول په يوه بنسټ پورې وتړل شي. ممکن دا کار په لوی لاس نه وي شوی.

نو ځکه د ښځو چارو د وزارت شته والی، په هغه بڼه چې خپل کارونه مخ ته وړي په ټوله کې د جندر دمساوات له مسالې سره په ټکر کې دی. همدغه تناقض چې ښايي په لوی لاس نه وي رامنځ ته شوی، دې ته زمينه برابره کړې چې د ښځو د پياوړتيا په تګلاره کې بل ځوک مداخله ونه کړي. په داسې حال کې چې د افغان ميرمنو لپاره د ملي لس کلن پلان ( ۲۰۰۷ – ۲۰۱۷ ) د بشپړ پلي کيدو لپاره يواځې درې کاله پاتې دي، د دغه پلان دعملي کيدو په اړه افغانانو ته پوښتنې پر خپل ځای پاتې دي. د غه پلان ته د داسې نوښت د يوې بيلګې په سترګه کتل کيدای شي چې د معاصرو ارزښتونو او دوديزو سيستمونو ترمنځ يې لانجمن کلتور ته پام نه دی کړی او تحليل يې سم نه دی شوی.

د يوې ادارې د جوړښت له نظره د دې پرځای چې د وزارت اړوند د جندر واحد د هر وزارت د پاليسۍ له ځانګې سره وتړل شي، د وزارت له اداري دفتر سره تړل يې د دې معنا لري چې د کار د نا سم تر سره کيدو پړه پرې اچول کيږي. خو يو ځوک دغه کار ته له هرې لارې توجيه پيدا کولای شي. ستونزه ښايي دا نه وي چې د جندر واحدونه په کوم ځای کې ځای پر ځای شوې دي، خو ايا دا اړينه او ګټوره ده چې د جندر د مساوات په څير مهمه پراخه مساله د ښځو چارو په وزارت او له دغه وزارت سره په تړلو واحدونو پورې محدوده شي.

د تصميم نيونې او د پراخې مسالې په بڼه د جندر د مساوات ترمنځ د تل پاتې اساسي اړيکې د نه ټينګيدو بل اړخ دا دی، چې په تيرو[32] دولسو کلونو کې يواځې په ښاري سيمو کې پراصلاحات پام ورټول ساتل شوی او دغه کار ته د ښځو هغو حرکتونو اعتبار ورکاوه، چې ښاري خاصيت يې درلود. خو دا هم بايد له پامه ونه غورځول شی، چې په ښاري سيمو کې کارکوونکې ميرمنې له دې هر څه خبرې وې. سره له دې، چې د ميرمنو د کار بڼه له کوره بهر کارونو ته بدله شوې خو لا هم هغه ميرمنې چې کار کوي، که هغه په کور کې دي او که په دفترونو کې پر نارينوو متکي (ډير يې اقتصادي لاملونه لري) دي، دوی لا هم په کارونو کې د ټولنيز اقتصاد له پلوه خپلواکه نه دي. لوړ پوړو چارواکو چې اکثره وخت نارينه وي، هم له معنوي پلوه او هم له مالي پلوه ( ډير دغه ډول چلند هم په دولتي او آن په شخصي بنسټونو کې يو شان ليدل شوی دی) د دغې ناتوانۍ چې د دوی ارزوګانې پکې نغښتې، هر کلی کړی دی. نو هغه څه چې دوی هڅوي، د ادارې د هدف لپاره په درد نه خوري ځکه يواځې د ځينو[33] چارواکو له خوا تاييديږي. د کارکوونکو لپاره د اغيزمن ميکانيزم په جوړيدو کې د عامه ادارې پاتې راتلو دغه حالت لاپسې بدتر کړ.

---

۳۰ په دې اړه نور معلوماتو د ليلا ابوقتدا، ايا مسلمانې ميرمنې ژغورنې ته اړتيا لري؟ کلتور ته دنسبت ورکولو په اړه د بشر پيژندې انعکاس دلته لوستی شی، http://org.uib.no/smi/seminars/Pensum/Abu-Lughod.pdf

۳۱ په دې اړه نور معلومات دلته موندلی شئ، رونالډ حيفيټز، له اسانه ځوابونو پرته مشري، (کمبريج: بلکنپ/هارورډ پوهنتون مطبعه،۱۹۹۴).

۳۲ آريه نجات، په افغانستان کې حکومتوالي: پيژندنه، د افغانستان د څيړنې او ارزونې واحد، مارچ ۲۰۱۴، مخ ۳۷-۳۹. http://www.areu.org.af/EditionDetails.aspx?EditionId=730&ContentId=7&ParentId=7&Lang=en-US

۳۳ د مارچ پر اتمې، د ښځو د نړيوالې ورځې په مناسبت د افغانستان په دولتي او شخصي ادارو کې ښځينه کارکونکيو ته د عام دود له مخې ډالۍ ورکولو پرمهال زما د خپلو شخصي او نورو تجربو له مخې.

## وړانديزونه

- په افغانستان کې ښځې مشرانې کيدای شي خو د مشرۍ معنا دا نه ده چې حتما دې په اقتدار کې لوړ پوست ولري[۳۴] ځکه اقتدار د رهبرۍ د استعمال ضمانت نه شي کولای. رهبري هنر دی او په عمل کې کارکول دي. په رهبرۍ کې د ټاکل شوي يا تعريف شوي هدف او د ژوند د معيار د لوړولو لپاره د خلکو همغږي کول شامل دي. رهبري داسې بهير بلل کيږي چې اقتدار يې ښايي وار له مخه شرط ونه ګڼل شي.

- په ټولنيزو، اقتصادي او سياسي اصلاحاتو کې د ښځو د مخکښ رول د لوبولو مانع ښايي دا وبلل شي، چې ميرمنې په باطن کې د ټولنې دويم (فرعي) اتباع ګڼل کيږي، نو له همدې وجې د ښځو د ظرفيت لوړولو لپاره دې همدغه نظر لرې کړل شي، د دې ترڅنګ دې په اقتدار کې چارواکي چې اکثره يې نارينه دي، د ښځو ټولنيز نقش وپيژني[۳۵] ځکه له دې کار سره به هم په ټولنه کې دښځو په اړه هميشنی عادت بدل شي او هم به يې نارينه په عمل کې پلی کړي.

- د ښځو د رهبرۍ د پرمختګ پر وړاندې درې مهم خنډونه شته: په اقتصادي توليد کې د ښځو رول روښانه نه دی، دويم دا چې د ښځو تحرک محدود دی او دريېم هم دهغوی لپاره ټولنيز رواني امنيت نشته. پر دې پوهيدل مهم دي چې په اقتصاد کې د ښځو د رول له پراخې ونډې پرته د دوی سياسي او ټولنيزه رهبري ثبات نه شي موندلی. د دې ترڅنګ د ښځو له تحرک پرته، دوی سرچينو او فرصتونو ته د لاسرسي وړتيا نه شي لوړولی. له بله پلوه که فاميلونو او ميرمنو ته د دوی له کوره بهر دوامداره ټولنيز رواني امنيت نه وي، دوی به تل محدودې او ساتونکي ورسره وي.

- د اصلاحاتو د پلي کولو موده بايد د ننګونو پر وړاندې زموږ رضايت کمزوری نه کړي، په ځانګړي ډول په داسې حالاتو کې چې هراړخيز، مسلسل او رښتينی پرمختګ نه وي ليدل شوی. که چيرې يو سمون اکثريت ته ګټه ونه شي رسولی، بايد پوښتنه يې وشي. که چيرې يو اکثريت د يوه سمون پر وړاندې مقاومت وښيي، نو اړتيا ده دهغه تاوان چې د دغه سمون له پلي کيدو دوی ته رسيږي، و څيړل شي او ومنل شي، او داسې خوندي فضا جوړه شي چې دوی د بدلون په بهير کې راګډ کړل شي او په تدريج سره ممکن تاوان قبول کړي.

- له اوږدمهاله، هر اړخيز، ټوليز او دتطبيق وړ له کلتوري بهير او د ارزښتونو له تغير سره يوځای بايد تخنيکي اصلاحات هم همغاړي مخ ته لاړ شي، ځکه په قانون کې بدلونونه، مقررات، ستراتيژي، پاليسۍ اولارښوونې (د ډيرو برخو لپاره تخنيکي سمونې) د بدلون لپاره يواځې زمينه برابرولی شي لکن ضمانت يې نه شي کولای. د بدلون لپاره واقعي مسووليت دهغو خلکو دی چې بايد په دغه بهير کې د ښکيلتيا له لارې بدل شي او تحول ته زمينه برابره کړي. دا خلک ښايي يواځې دښاري سيمو نه وي، بلکې د پراخو سيمو خلک وي، هغه چې لږ يې برخه اخيستې وي يا څنډې ته پاتې شوي او يا د هيواد د کليوالو سيمو هغه خلک وي چې سم چلند ورسره نه وي شوی.

- راتلونکې لار يواځې دا نه ده چې د ښځو د ځواکمنتيا اړوند پاليسۍ او ستراتيژۍ وپوښتل شي، بلکې د ښځو دحقونو او د ښځو د ځواکمنتيا افغان او نړيوالو مدافعين ګډې هڅې هم بايد پکې شاملې وي. دغه بهير به د تصميم ګيرۍ له لوړ ظرفيت، د پروګرام له جوړوونکو او پلي کوونکو او دارنګه د جندر د مساوات له مدافعينو څخه چې د څارنې، مداخلې او انعکاس په کړۍ کې به کار کوي، ګټه واخلي.[36] دغه کار به د افغانستان په لويو اقتصادي او ټولنيزو-سياسي مفاهمو کې دې ته زمينه برابره کړي، چې د جندر مساوات اړوند مسايل د ور له مخه مهم شرط په ښه ضروري و ګڼل شي. د سولې بهير يو له دغو سترو مفاهيمو بلل کيږي.

- افغانستان له نژدې يوې پيړۍ راهيسې د اصلاحاتو يوه يا بله ښه خپلوې. خو تاريخ ثابته کړې چې د اصلاحاتو له پاسه نه ښکته اجنډا ناکامه ده. نو ځکه له دې وروسته يواځې د بدلون مسله نه ده، بلکې دوام او په ټولنيز ډول جواب ويونکی بدلون چې د نورو تر څنګ د عادت او اخلاقو لپاره هم وړتياوې په لويه کچه پکې پرمختګ وکړي، مهم دی. نو د ارزښت تغير او د کلتور د تحول بهير چې نارينه او ښځينه دواړه پکې ښکيل دي او اړينه حوصله غواړي، له دولسو کلونو ډير وخت نيسي.

آريه نجات چې له هارړډ کينيډي پوهنتونه فارغه شوې، په افغان حکومت کې يې د بنسټونو د پرمختګ او حکومتوالۍ په برخه کې کار کړی او همدارنګه په کابل کې د يو خپلواکه سلاکار په توګه کار کوي. هغه په ايميل ادرس aanijat@gmail.com او ټويټر پاڼه موندلی شئ. *@AaryaNijat*

نوټ: د دغه تحقيق لنډه بڼه، د ۲۰۱۴ کال د اکتوبر پر نهمه د سويلي آسيا د چينل په فارن پاليسۍ خپرونه کې هم خپره شوې. د پاليسۍ د نوټ په نوم د دغه تحقيق اوږده بڼه د ليکوال او فارن پاليسۍ د ويب پاڼې په ګډ توافق خپريږي.

---

۳۴ په دې اړه نور معلوماتو دلته موندلی شئ، رونالډ حيفيټز، له اسانه ځوابونو پرته مشري، (کمبريج: بلکنپ/هارورډ پوهنتون مطبعه،۱۹۹۴) ډين ويليم، ريښتينې رهبري: له هغو خلکو او ادارو سره مرسته چې له سختو ننګونو سره مخامخ دي، (سن فرانسيسکو: ښېريټ،- کوهيلر، ۲۰۰۵).

۳۵ تر دې پولې تيريدل بايد انسانانو ترمنځ يو پر بل تکيه تر پوښتنې لاندې را نه ولي او يا هم په افغانستان کې له کورنيو او د کورنيو له بنسټونو سره تړلي ارزښتونه ونه ننګوي. د دې کار اصلي هدف د ظرفيت لوړول دي چې د افرادو او په ټوله ييز ډول په ټولنه کې يو پر بل د متکي کيدو توزان رامنځ ته کړي.

۳۲ په دې اړه نور معلوماتو دلته موندلی شئ، رونالډ حيفيټز، له اسانه ځوابونو پرته مشري، (کمبريج: بلکنپ/هارورډ پوهنتون مطبعه،۱۹۹۴) ډين ويليم، ريښتينې رهبري: له هغو خلکو او ادارو سره مرسته چې له سختو ننګونو سره مخامخ دي، (سن فرانسيسکو: ښېريټ،- کوهيلر، ۲۰۰۵).